پوهندوی آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۹/۱۲

# زموږ د کلي شپون
## او
## «و، نه و، یو شپون و»
### لومړۍ برخه




شپون، شپون دی. زما په عقیده استاد سعدالدین شپون د کلمې په رښتینې مانا شپون دی. شپون د خپلو کتابونو، مقالو، شعرونو، لکچرونو او ناستو پاستو له لارې، په عام ډول د ټولو خلکو او په ځانګړې توګه د خپلو شاګردانو او مینه والو لارښوونه کوله. شپون په پښتو اوسنې ادب کې د ځانګړې سبک خاوند لیکوال دی، چې کیدای شي سبک ته یې **«د شپانه سبک»** نوم ورکړل شي.

د ده د ژوند د هرې برخې حالات او احوال به څېړل کیږي، خو تر ټولو مهمه او اړینه دا ده چې: موږ باید پر دې فکر وکړو چې شپون څومره توانیدلی چې د خپل فکر او د خپلې ککرۍ د بڼ میوه، د خپلې ښیرازه ونې یعنې قلم له لارې، په څه ډول تر نورو پورې رسولې ده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

شپون که له يوې خوا ملنګ مشربه شپون دی، نو له بلې خوا بادشاه هم دی، دی د خپل قلم په هنر بادشاه دی، دی د نثر بادشاه دی د پښتو نثر بادشاه، ده ته د بادشاهۍ دا مقام چا وړيا نه دی ورکړی، د خپل قلم او په نثر ليکلو کې د ځانګړي سبک او هنر په پار ور کړل شوی دی.

شپون د افغانستان د ادبياتو او په ځانګړي ډول د پښتو ادبياتو د اوسني بهير يو حقداره او د قدر وړ څيره ده. ما ته خدای تر پايه د شپون ليدل را په برخه نه کړل، خو هيڅ کتاب به يې بې يو، دوه لا درې ځلې لوستلو نه وي را نه پاتې، ټول هغه شعرونه، مقالې او لنډې ليکنې يې چې په مخه راغلي دي، بې لوستلو نه دي را نه پاتې، ډيرې مې يا پرنټ (چاپ) کړي دي او يا مې په خپل کمپيوټر کې خوندي کړې دي.

## ما ته تر پايه خدای د شپانه ليدل را په برخه نه کړل:

داسي هم وشول چې په ټول ژوند کې مې يو ځل د تيليفون پر کرښه خبرې ورسره وکړې. نه پوهيږم چې نه اټکليدونکې پيښې به موږ په کومو نورو آشنا او نا آشنا کوڅو باندې تاو را تاو کړي، خو يو وار داسې هم وشول چې په وطن کې د بدلونونو بوږبوښکيو، د وچې پانې په څير له خپل بڼ نه راجګ کړم او په ډنمارک کې يې وغورځولم. د ۲۰۰۱ کال په لومړيو کې مې د ډنمارک په شمالي ښار، فريدريکس هاون په يو پنډغولي يا کمپ کې، د مهاجرت د هو يا نه ځواب له پاره ترخې شيبې شميرلې، زه نه پوهيږم چې شپون به زما د تيليفون شميره څنګه، له چا نه تر لاسه کړې وه، چې تيليفون يې را ته وکړ. د بلې؟ له ويلو سره مې يو پوست او مهربانه غږ واوريد چې ويل يې:

## «شپون يم، امريکا غږ نه خبرې کوم!»

ښه روغبړ مو سره وکړ. څنګه چې ده هم د ډنمارک د مهاجرت د چاپيريال مزه څکلې وه، نو په دې اړه يې ښې ډيرې پوښتنې را نه وکړې، خو زه په دې سبب په هيڅ نه وم خبر، چې نوم مې لکه د چا خبره په پنسل ډير تت ليکل شوی و، د راتګ مې لا څو اونۍ وتلې وې او لا د کمپ په چاپيريال کې سم بلد نه وم.

له دې خبرو او دلدارۍ نه وروسته يې زما د يو چاپ شوي کتاب (د کوچنيانو ادبيات) په باب پوښتنې پيل کړې. خو کور دننه جګړو ورسره ليرد را ليرد او له وطن نه د باندې مهاجرتونو او ورسره ستونزو مې زړه او بدن داسې زهير کړی او سره مروړلي وو، چې په خپل لاس ليکلي اثر او د کړي تحقيق په باب مې هم ډير لږ څه په ياد وو او په دې لږ څه د ده تنده نه ماتيده. ما ور ته و ويل څو ورځې وروسته زنګ و وهه زه به لږ څه په تفصيل در ته وغږيږم. خو دی لاړ چې لاړ، بيا يې نه تيليفون را ته وکړ او نه مو کوم بل ځای سره وليدل.

د محصلۍ په دوره کې مې د شپون صاحب څو شعرونه او مقالې لوستلې وې، خو داسې مستقل اثر مې يې له نظره تير شوی نه و. وروسته چې د نړۍ او افغانستان حالات سره بدليدل رابدليدل، په فرهنګي ډګر کې هم بدلونونه رامنځ ته شول. د همدې بدلونونو په لړ کې شپون صاحب ته خدای توان ورکړ چې پر پخوانيو ليکنو سربيره، څو کيسې، ناولونه او لا خپله بيو ګرافي وليکي او د لوستونکو په مخ کې يې کيږدي. زما له نظره يې دغه ليکنې تيرې شوې دي:

– ليکوالي،

– زوړ سړی او سيند (ژباړه)،

– پرخه په ترخه (د شعرونو جونګ)،

– شين تاغی،

– ګټيالی،

– د بنګي غاړه،

– و، نه و، يو شپون و،

او په سل ګونې لنډې ليکنې.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ




په څوانه ځوانۍ کې مې يې بيوګرافي د بينوا صاحب په اوسني ليکوال کې لوستې وه او فکر مې کاوه چې لکه دا نور استادان دلته چيرې به وي، کومه ورځ به يې ووينم، خو د حالاتو باد و باران نور هم پسې مرګوني شول، دی چيرې؟ خو زه خدای د ماسکو په سړو کې پنډيتوب او دوکانداري ته ودرولم.

بيا نو کتاب لوستل او د څه ليکل څه چې هسې د ورځې چلولو ته هم حيران وم او لکه لامبوزن چې په اوبو کې لامبي، ما د سړو له څپو سره غيږې ورکړې او ور ته ودريدم.

د ماسکو په همدغو سړو او همدغو دوکانداريانو کې د شپون د شپنۍ يو سوغات د تصادف له مخې راورسيد او چا «شين تاغی» په لاس راکړ.



دوه، درې دقيقې به مې هم چې بيکاره وې، د شين تاغي لوستل به مې پيل کړل او داسې به په کې ډوب وم، چې سم دم به په شين ټاغي کې ناست او د کابل پر لوري به رهي وم.
د شين ټاغي ځينې کرکترونه ما په غياب کې پيژندل، خو له هغې ډلې نه يو کرکتر، ډاکتر زړور(دوکتور غلام غوث شجاعي) ما له نږدې نه پيژانده. ډوکتور غلام غوث شجاعي په فلسفه کې په جرمني کې لوړې زدکړې کړې وې او په ۱۳۵۷ کال کې يې زموږ په ټولګي کې د فلسفې تدريس کاوه.

د لومړۍ برخې پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ